


د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » لیکنه
د نشر نیټه : 15 نوامبر 2026 میلادي

هوا او هوس!

همه با هوا و هوس ساختی
د می با مصالح نه پرداختی



د هوا او هوس بی جلبه هڅه یو داسې ساري مرض دی چه د مزمن کیدو په حالت کښې اجتماعات تباه کوي.

زمونږ ځوانان، پاڅه ، زاړه ، نراو ښځۍ ټول باید دیته پوره پام ولري چه د هوا او هوس هڅې له هغی اندارې څخه ځان و ساتي، کوم چه د بی نظمي او د جامعي د تباهي موجب کیږي، له بلی خوا د هوا او هوس بی جلبه حرکت د سړي شخصیت ټیټوي او اکثر خلک د رسوائي سره مخامخ کوي.
وائي: دیولوی شخصیت د ګوتی په غمي کی لیکل شوي وه:

« من غلب عقله هواه افتضح »

څوک چه په عقل باندی د هوا اوهوس ناوړه تاثیرات غلبه پیدا کړي، رسواکیږي !!!

بلی: خصوصي رسوائي، عمومي رسوائي، اجتماعي رسوائي، سیاسي رسوائي ، تاریخي رسوائي ، دینوي رسوائي ، اخروي رسوائی او په زړونو کښی ورځخه کرکه او نفرت!

سعید افغاني
د اسد میاشت ـ د ۱۳۵۴ هجري شمسي ـ کابل

ترتیب کوونکی: برهان الدین « سعیدی»
د مولانا سعید افغاني د افکارو پلوشي د کتاب نه

www.said-afghani.org ـ بارګشت به صفحه اصلی